مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۲/۲۶

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (لسمه برخه)

### الله نواز

د ملتان هندوستانی دئ. د خان بهادر رب نواز خان زوی دئ . په ۱۹۱۵ز کال کي چي په لاهور کي زده کوونکی وو افغانستان ته راغی او افغان تابعیت ئـي تر لاسه کړ. په ۱۹۲۰ز کال کي په جلال آباد کي د اتحادِ مشرقي د خپروني مرستیال محرر وو. د جلال آباد د ښوونځیو ناظر. په ۱۹۲۹ز کال کي ئـي د کابل پر لور د نادر شاه په پرمختګ کي مرسته وکړه. د ۱۹۲۹ز کال په اکتوبر کي ددربار د وزیر په توګه، د ۱۹۲۹ز کال په نوامبر کي د میر آخور په توګه مقرر سو. د ۱۹۳۰ز کال د مي په میاشت کي په نوي پلازمیني کي دار الامان کي د دولتي ودانیو د سرپرستی او د څار مسؤولیت ور وسپارل سو. د ۱۹۳۱ز کال د نوامبر په میاشت کي له کابله برلین ته لاړ. د ۱۹۳۳ز کال د جون په میاشت کي د فواید عامي وزیر په توګه مقرر سو خو ددغـهٔ کال ډېره برخه ئـي په سویلي ولایت/ جنوبي ولایت کي د رامنځه سویو ګډوډیو په تراو تـېره کړه. د نادر شاه په وژل کېدلو سره الله نواز شاه محمود خان ته مشوره وکړه چي د پکتیا د قومي مشرانو د بعیت د منلو پر ځای دي شهزاده ظاهر د پادشاه په توګه ومني. د ۱۹۳۳ز کال په دسمبر کي د طبي معایناتو لپاره اروپا ته د سفر په موخه له کابله ووت. له ۱۹۳۵ تر ۱۹۴۵ز کال پوري په برلین کي مختار وزیر. وروسته بیرته جرمني ته ستون سو او تر ۱۹۷۱ز کال پوري ئـي هلته ژوند وکړ. په ۱۹۷۷ز کال کي بـېرته کابل ته راستون سو. زوی ئـي علي نواز په ۱۹۷۳ز کال کي د سوداګریزو چارو د وزارت مرستیال وزیر او د فاروق فرهنګ خسر.

### امان الله خان

د افغانستان پادشاه. په ۱۸۹۲ز کال کي زېږېدلی دئ. له علیا حضرتي ښځه د امیر حبیب الله خان دریم زوی. په ۱۹۱۴ز کال کي ئـي د سردار محمود طرزي له لور ثریا سره چي مور ئـي د محمود طرزی سوریایي مېرمن وه واده وکړ. د مدرنیزم نظریات ئـي ومنل چي د ځوانو درباریانو او روڼ اندو په منځ کي ئـي محبوبیت وموند. کله چي په ۱۹۱۸ – ۱۹۱۹ز کال کي دربار په جلال آباد کي خپل ژمني استوګنځي ته لاړ دی په کابل کي د کابل د والي په توګه پاتي سو. کله چي امیر حبیب الله د ۱۹۱۹ز کال د فبرورۍ په میاشت کي ووژل سو دی په دي پیاوړي دریځ کي وو چي د وسلتون، خزاني او ګودامونو کنترول ئـي په لاس کي وو. دهٔ ځان امیر اعلان کړ خپل اکا نصرالله ئـي غاصب اعلان کړ او هغه ئـي د خپل پلار د قتل په پېښي کي په لاس لرلو تورن کړ. په کابل او جلال آباد کي سرتـېرو د امان الله خان خوا ونیوله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

او په دې توګه نصرالله مجبور سو چې تسليم سي. د فبرورۍ د مياشتې په ۲۷ نېټې (د ۱۲۹۹ل کال د کب ۹) امان الله رسماً د تګاو د ملا په لاس سلطنتي تاج پر سر کښېښود او اعلان ئې وکړ چې سردار عنايت الله د تاج له مدعا څخه صرف نظر کړی او نصرالله يو غاصب دئ. د اپريل د مياشتې په ۱۳ نېټې امان الله په کابل کې په ځانګړي دربار کې محکمه جوړه کړه، په دې محکمې کې د امير حبيب الله د قتل د تورنو محکمه پيل سوه چې په پای کې يو ډګروال شاه علي رضا د مرګ په سزا محکوم او اعدام سو. سردار نصرالله او نور په حبس ابد محکوم سول. اعليحضرت امان الله د عصري کولو يا مدرنايزيشن په شنډو او ناکامو هڅو او د برتانيې په برياليو ننګولو سره چې پايله ئې د افغانستان په بشپړ استقلال واوښتله خورا ډېر شهرت تر لاسه کړ. د انګليس – افغانستان اړيکي له ***شخص*** واکمن امير سره د منعقد سويو معاهداتو پر بنسټ وې نـهٔ د هغهٔ له سلطنتي کورنۍ او يا د افغانستان له دولت سره. له دې کبله کله چې امان الله د سلطنت پر تخت جلوس وکړ هغهٔ د انګلو – افغان د اړيکو د په رسميت پېژندلو، د افغانستان د استقلال او په نړۍ والو اړيکو کې د عمل د آزادۍ غوښتنه وکړه. خو د برتانوي هند دولت د تړون د خبرونو اترو اړتيا ته کومه لېوالتيا نـهٔ درلودله په دې توګه په لومړۍ نړۍ والې جګړې کې د حبيب الله خان د ناپيیلتوب لپاره د پام وړ غراماتو د ترلاسه کولو لپاره د افغانانو هېلې په اوبو کې لاهو سوې او جګړې ته چمتو والی پيل سو او د انګلو – افغان د دريمې جګړې پېښېدل ئې خپلې لوړې درجې ته ورسول. د جنرال نادر خان تر مشرۍ لاندې افغان سرتيرو يو شمېر سيمې ونيولې او همدا شان برتانوي ځواکونو په ختيځو او سويلي محاذونو کې پرمختګ وکړ خو د هندوستان په افغان سرحد کې د قبائيلو د عمومي پاڅون له ويرې برتانوي دولت سولې ته غاړه کښېښودله او پر افغانستان باندې له سلطې مونډلو څخه لاس پر سر سو. دغې بريا امان الله خان ته زښت ډېر او د پام وړ پرستيژ او حيثيت ددهٔ په خپل هېـواد او په ټول ختيځ کې ورپه برخې کړ. امان الله د خلکو، په ځانګړې توګه د ملايانو د احساساتو ته په نـهٔ پام لرلو سره د خپلو اصلاحاتو په چټکو پلې کولو پيل وکړ. په ۱۹۲۴ز کال کې د پغمان لويې جرګې د امان الله خان ټول اقدامات منظور کړل. امان الله خان د ځو ښورښونو له پارېدلو څخه هېڅ ګټه پورته نـهٔ کړه تر ټولو مهم ښورښ د ۱۹۲۴ز کال د خوست ښورښ وو (چې مشري ئې عبدالله احمدزي، مشهور په ګوډ ملا کوله) او امان الله خان د خپلو ټولنيزو او تعليمي اصلاحاتو لپاره خپل ماليات ولګول او له خپل وسله وال ځواک څخه غافل سو. اروپا ته د ۱۹۲۷- ۱۹۲۸ز کال د سفر پايله په دې واوښتله چې امان الله په خپلو دغو تمايلاتو کې اغراق وکړي، په ځانګړې توګه باور دا دی چې له کمال اتاترک سره د هغهٔ د ليدنې په پايله کې د امان الله اصلاحي ليوالتيا زښته ډېره سوه (سره له دې چې کمال اتاترک ورته ويلي ول چې په خپلو اصلاحي ريفورمونو کې دې منځلارۍ/ ميانه ور اوسي). افغانستان ته له راستنيدلو وروسته ئې په پغمان کې لويه جرګه راوبلله او خپل يو شمېر بنسټيز راديکال ريفورمونه ئې جرګې ته معرفي کړل. د ۱۹۲۸ز کال په منې کې شينوارو ښورښ پيل کړ او په دوی پسې ډېر ژر نورو قومونو ښورښونه وکړل. د کوهدامن له کلکانو څخه حبيب الله د ۱۹۲۸ز کال په دسمبر کې او بيا د ۱۹۲۹ز کال په جنورۍ کې په کابل باندې بريدونه وکړل. امان الله چې په شدت تر فشار لاندې راغی د جنورۍ په ۱۴ نېټې اعلان وکړ چې له خپل سلطنت څخه د عنايت الله خان په ګټې تېرېږي او کندهار ته وتښتېد. امان الله خان په کندهار کې هڅه وکړه چې د دراني سلسلې ملاتړ راټول کړي او خپله استعفی ئې لغو کړه. د اپريل په مياشت کې ئې د کابل پر لور پرمختګ وکړ خو د غلزيو د دښمنۍ له کبله غزني ته نېږدې په شا وتمبول سو او په مقر کې ئې ماته وخوړله. امان الله خان د مي د مياشتې په ۲۳ نېټې په پټه له خپلې کورنۍ سره چمن ته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ورسېد او د ۱۹۲۹ز کال د جون د میاشتي په ۲۲ نېټي له بمبئي څخه د ایټالیې پر لور په کښتۍ کي وخوځېد. د ۱۹۳۰ز کال د نوامبر په میاشت کي ئې ایټالیا ته د ستنېدلو په لاره کي له اتاترک سره ولیدل. د ۱۹۳۳ز کال په جولای کي ئې له استانبول څخه لیدنه وکړه. د ۱۹۳۳ز کال د نوامبر په میاشت کي له افغان تابعیت څخه محروم وګرځول سو. د ایټالیا دولت ورته د میاشتي ۱۵۰ پونډه مستمري ورکوله. په ۱۹۳۸ز کال کي انقرې ته د اتاترک په جنازې کي د ګډون لپاره راغی. په ۱۹۴۷ز کال کي ئې له سلطنت څخه د انصراف لیک واستاوهٔ او د کابل په ورځپاڼو کي خپور سو. په ۱۹۴۹ز کال کي پخواني پادشاه امان الله له ظاهر شاه سره ولیدل، دغه لیدنه د پخلاینې لامل سوه. امان الله په ایټالیا او سویټزرلند کي د خپل مرګ تر نېټي پوري چي د ۱۹۶۰ز کال د اپریل ۲۶ نېټه ده، ژوند وکړ. امان الله خان په جلال آباد کي د امیر حبیب الله خان تر څنګ د درندو مراسمو په ترڅ کي خاورو ته وسپارل سو. [1]

## انجنیر محمد صادق امرخیل

په ۱۹۵۳ز کال کي د میدان د نرخ په ولسوالۍ کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۷۶ز کال کي د کابل پوهنتون د انجنیرۍ له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. تر ۱۹۸۰ز کال پورې د میخانیکي انجنیرۍ د یونیټ په دیپارټمنټ کي ښوونکی. د میدان په مجاهدینو کي فعال. په ۱۹۸۴ز کال کي ووژل سو.

## محمد امین عامل

د عبدالغیاث زوی په ۱۹۲۹ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۷ز کال کي د نجات په لیسې کي شامل سو او له فراغت وروسته په همدې لیسې کي د پارسي د قرائت ښوونکی سو. شاعر.

## عبدالله امین

د حفیظ الله امین مشر ورور د خروټو له قبیلې څخه. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل تر میاشتي پورې د سپین زر د نساجي کمپنۍ محاسب. د سپین زر د نساجي کمپنۍ رئیس. د ۱۹۷۹ز کال د آګست په دولسمي د شمالي زون (کندز، تخار، بغلان او سمنګان) د امنیت مشر. د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر په پای کي د افغانستان په شمال کي ووژل سو. مورنۍ ژبه ئې پښتو وه.

## ډاکټر امین الله قیوم امین

د۱۹۴۰ز لسیزې په اوږدو کي په کندهار کي زېږېدلی دئ. د امریکا د متحده ایالاتو په (هاوایي [2]) کي ئې لیسانس او ماسټرې او دکتورا تر لاسه کړې ده. د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي استاد او اداري کارکوونکی. د باندنیو چارو په وزارت کي مدیر. د کابل پوهنتون د څېړنو / تحقیقاتو د مرکز مدیر. د معارف د وزارت دوهم مرستیال وزیر.

---

[1] - د ۱۹۳۱ز کال د اپریل د میاشتي په ۵ نېټي د حج د اداء کولو لپاره له «ناپلس» څخه د «جدې» پر لور وخوځېد. د ۱۹۳۱ز کال د مې د میاشتي په ۹ نېټي له «جدې» څخه د «سویز»Suez پر لور لاړ. د ۱۹۳۳ز کال د جولای په میاشت کي ئې د استانبول څخه لیدنه وکړه. د ایټالوی مېرمنې د ماشومانو په ګډون ئې دري زامن او څلور لوڼې ئې درلودې. - ژ

[2] -Hawaii


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ډاکټر اسدالله امین

په ۱۹۷۷ز کال کې د کابل د طب له پوهنځي څخه د طب .M.D ډیپلوم تر لاسه کړ. د عبدالله امین زوی او د حفیظ الله امین ورارهٔ او زوم. د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې د باندنیو چارو د وزارت د سیاسي چارو لپاره دوهم مرستیال وزیر. د کابل ښار د ښاري ګوندي کمیټي منشي. د افغان – شوروي د دوستۍ د ټولنې رئیس. د مرکزي کمیټي غړی. د تره کي له پرځېدلو وروسته د کام رئیس. د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر په ۲۷ نېټې له حفیظ الله امین سره یو ځای ووژل سو.

## ډاکټر ګلزار امین

د ننګرهار د پوهنتون رئیس. «د غوایي له پاڅون وروسته» د ګوند د ولایتي کمیټي منشي.

**نور بیا**

## حفیظ الله امین

حفیظ الله امین په ۱۹۲۹ز کال کې د کابل ولایت د ...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ